

**مطبوعاتي اعلامیه**

## د اردون د نظامي محکمې له لوري د حزب التحریر د یو غړي انجینیر اسماعیل الوحواح د بندي کولو د ناعادلانه حکم صادرېدل

**(ژباړه)**

د اردون د رژیم له ځپونکو هڅو وروسته، د حزب التحریر یو غړی اسماعیل الواحواح د ۲۰۱۸ م د جولای پر ۲۵مه په علیا ملکه هوایي ډګر کې ونیول شو او د اردون ظالمې نظامي محکمې نوموړي ته د درې کاله بند حکم ورکړ، چې ورسته یو کال ته راټیټ شو. د اردن ظالم رژیم د حزب التحریر د غړو پر وړاندې خپلو محکمو ته د دا ډول ځپونکي تور لګولو امر کړی، چې د خپل قضاوت له امله له الله سبحانه وتعالی څخه نه ویرېږي. د حزب التحریر ځوانان له الله سبحانه وتعالی سره د ژمنې پربنسټ خلکو ته اسلامي دعوت په فکري او سیاسي ډول رسوي.

دغه تلپاتې ظلم چې یاد رژیم یې په بې شرمه ډول د حزب التحریر د غړو پر وړاندې تر سره کوي او لاس نه ترې اخلي، نو موږ د یو پېژندل شوي سیاسي حزب په توګه خلکو ته لاندې ټکي بیانوو:

لومړی) حزب التحریر یو سیاسي حزب دی، ایډیولوژي یې اسلام ده او د الله سبحانه وتعالی د دغه قول پر بنسټ تاسیس شوی دی:

**﴿وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾**

[آل عمران: 104]

*__ژباړه__: باید له تاسو څخه یوه ډله وي چې خیر ته دعوت وکړي او په معروف امر او له منکر څخه منعه وکړي. دغه کسان رښتینـي دي.*

دغه د ټول وخت لپاره یوه وجیبه ده، خو یاده موضوع چې پر داسې وخت مطرح کېږي چې مسلمانان هېڅ دولت او سیاسي خپلواکي نه لري، نو پر ټولو واجبېږي چې له امت سره کار وکړي او د اسلامي دولت د تاسیس له لارې د اسلامي ژوند بیا راتگ لپاره فعالیت وکړي، چې د اسلام پر بنسټ حکومت کوي او اسلام پلی کوي. څرنگه چې الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَـهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ﴾**

[مائده: 49]

*__ژباړه:__ اې محمد صلی الله علیه وسلم! هغه څه چې الله سبحانه وتعالی نازل کړي، حکم پرې وکړه، د هغوی د غوښتنې پیروي یې مه کړه او لېرې ترې اوسه، چې خدای مه کړه دوکه در نه کړي تر څو هغه څه چې الله سبحانه وتعالی پر تا نازل کړي، سرغړونه وکړې او که یې مخ واړاوه، پوه شه چې الله سبحانه وتعالی هغوی ته د ځینو گناهونو له امله سزا ورکوي او دا حقیقت دی چې دغه خلک تر ډېره فاسقان دي.*

دویم) هغه طریقه چې حزب التحریر یې موخې ته د رسېدو لپاره کاروي، هغه تگلاره ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د لومړي اسلامي دولت د تاسیس تر وخته کاروله او له دغې تگلارې د یو انچ په کچه هم انحراف نه کوي او د الله سبحانه وتعالی لپاره له هېچا نه وېرېږي. دغه تگلاره د فکري او سیاسي فعالیتونو په واسطه د دعوت رسول دي. له هر ډول مادي فعالیتونو پرته او د یو نړیوال سیاسي حزب په توگه یې هېڅ وخت د مادي فعالیتونو اقدام نه دی کړی. دغه کس د نړیوال اطلاعاتي سرویس په واسطه پېژندل شوی. د اروپایي  ټولنې په گډون، چې حزب التحریر د یادې ټولنې په ډېرو برخو کې په ښکاره فعالیت کوي، خو پر دې ونه توانېدل چې اسماعیل الوحواح ونیسي. نو پر همدغه بنسټ دغه دنده یې د اردون ځېونکې دستگا ته وسپارله.

درېیم) دغه پوچ او غلط تورونه لکه د رژیم د کمزوري کېدو لپاره خوځښت، هغو ټولو کسانو ته متوجې کېږي چې خپرونې، اصطلاحات او خپل سیاسي او فکري لیدلوري په اکټرونیکي ټولنیزو رسنیو کې شریکوي. دغه ټول یوازې د دې لپاره دي چې د حزب التحریر ځوانانو ته د اردون د ظالم رژیم د بشري قوانیو تر چتر لاندې جزا ورکړي. هغوی نه د رژیم په اساسي قانون او نه په الهي قوانینو کې کوم بنسټ لري. نو ایا هغوی خپل رژیم د الله سبحانه وتعالی له هغه رژیم سره مخ کوي چې اسلامي شریعت پلي کوي او د نبووت پر تگلاره اسلامي خلافت دی؟

دا هغه دعوت دی چې حزب التحریر یې له امله په ټوله نړۍ کې پېژندل شوی او دغه یې ورځني فعالیتونه دي.

بندخونه زموږ لپاره د الله سبحانه وتعالی قضا ده او دعا کوم چې الله سبحانه وتعالی یې موږ ته اجر راکړي؛ خو دغه ظلم د هغو کسانو له لوري دی چې دغه ظالم قوانین د هغو کسانو پر وړاندې لاسلیکوي چې وایي الله سبحانه وتعالی زموږ پروردگار دی. اوس که رژیم، نظامي دستگاوې یا د هغوی د نظامي محکمو قاضیان دي، خو موږ به د نبووت پر تگلاره د خلافت د تاسیس لپاره له خپلو صادقانه فعالیتونو او قربانیو منع نه کړي.

﴿وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُونَ﴾

[شعراء: 227]

***ژباړه:*** *ظالمان به ډېر ژر پوه شي چې کوم ځای ته بیرته ورگرځي!*

**د حزب التحرير ـ ولايه اردن مطبوعاتي دفتر**

**د صدور گڼه: ۱۴۴۰/۱۵**

**۱۴۴۰ هـ.ق د جمادي الاول ۱۰مه**

**۲۰۱۹ میلادي کال د جنوري ۱٦مه**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**